د "ويښ زلمي" ملي مترقي نهضت

بنسټ ايښوونکی

محمدرسول پښتون

۱۲۷۹ - ۱۳۶۱ هـ ش

pashtoon.net / pashtun.info September 2017

اروانباد ښاغلی محمدرسول پښتون د مرحوم حاجي خدایارخان[۱،۲] (د ۱۳۰۲ ش. کال په لوجرګه کي د ټولو بارکزو مشر او استازی) زوی، د مرحوم حاجي - اللّٰه یارخان (د میوند د جنګ شهید ۱۸۸۰ م.) لمسی، د مرحوم حبیب اللّٰه خان کړوسی او د "لو ادې[۳]"، او مرحوم عبدالمنصورخان بارکزي[۴] (منصور نیکه) او اروانباد سردار عبداللّٰه خان بارکزي مشهور په کلان خان (لوی خان) له پښته دئ. (د سیمي د سپین ږیرو په حواله اروانباد سردار عبداللّٰه خان بارکزی د اعلیحضرت احمدشاه بابا[رح] په وخت کي د پاني پت په جګړه کي د شهادت مقام ته رسېدلی او یوازې ددې مرحوم سر کندهار ته راوړل سوئ او په منصور غونډۍ کي خاورو ته سپارل سوئ دئ).

ښاغلی محمدرسول پښتون په ۱۲۷۹ لمریز کال د میزان په میاشت کي (د ۱۹۰۰ میلادي کال سپتمبر) د کندهار په منصور کلي (منصور غونډۍ) کي چي د کندهار ښار په دېرش کیلومتری کي سویلي خوا ته پروت دئ، په یوې درنې کورنی کي زوکړی دئ. ابتدایي زده کړې یې د خپل پلار او مور او د کندهار له شهیرو علماوو څخه وکړې؛ په فلسفه، حقوقو، شرعي اصولو، فقه او سیاست کي د ډېرې ژورې مطالعې خاوند و؛ د ملي حاکمیت، اجتماعي عدالت، واقعي ډیموکراسی او د مشروطه شاهي نظام کلکه پلوي یې کوله او د ژوند ترپایه پوري د خرافاتو پر ضد وجنګېدئ.

اروانباد پښتون یو وطنپال، ټولنیز او مؤمن شخصیت و. د ښاغلي محمددین ژواک د ثبت سوي مصاحبې پر اساس "مرحوم خان عبدالغفارخان (پاچاخان) هغه د "فَخرِ بارَک" په نامه نومولی و." مرحوم پښتون د "مشروطیت" د دریمي دورې مخکښ او د "میثاق"، "ویښ زلمي" (تر ۱۳۰۷ ش. دمخه) او "افغان ورورګلوی" (۱۳۴۴ ش.) د غورځنګو بنسټ اېښوونکی و.

مرحوم پښتون د ۱۳۶۱ لمریز کال د چنګاښ د میاشتي په دیارلسمه نېټه چه د ۱۹۸۲ م. کال د جولای د څلرمي سره سمون لري د دواتیا کالو (۸۲) په عمر په کابل کي وفات او د کابل په شهدای صالحین کي خاورو ته وسپارل سو. خدای ج دي وبخښي.

د اروانباد پوهاند عبدالشکور رشاد لیکنه د ښاغلي پښتون صاحب د زوکړې او وفات د نېټې په ارتباط دهغه د قبر پر شنخته داسي لیکل سوې ده:

"اناللّٰه وانااليه راجعون.

دلته ستاسي دعا ته محتاج محمدرسول پښتون (د حاجي خدایارخان بارکزي زوی) ښخ دئ.

دی په ۱۳۱۸ هـ.ق. (۱۲۷۹ ش. – ۱۹۰۰ م.) په کندهار کي زوکړی او د ۱۴۰۲ هـ.ق. د روژې په دیرلسمه

(۱۳ د سرطان ۱۳۶۱ ش. د جولای څلرمه ۱۹۸۲ م.) په کابل کي حق ته ورسېد.

دی له ځوانی څخه تر مرګه پوري د خرافاتو پرضد جنګېدلی، د خلګو د حقوقو او ډیموکراسی

له پاره یې مبارزه کړې او په دغه "جرم" یې یوولس کاله (۱۳۳۱ - ۱۳۴۲ ش.) سیاسي بند هم ګاللی دئ.

اللهم اجزئه بماصبر جنته وحریرا."

---

(۱) ښاغلي غبار د "افغانستان در مسیر تاریخ" په ۷۶۲ صفحه کي د مرحوم حاجي خدایارخان بارکزي په اړه لیکلي دي چي دی د نورو کندهاري مشرانو په ملګرتیا د (کوچني شهید) په نامه د انګرېزي فتنې او توطئې د عملي کېدو مخ نیوونکی و.

(۲) د اعلیحضرت امیرعبدالرحمن خان د سلطنت په وخت کي په سویل او سویل لوېدیځ افغانستان (لوی کندهار) کي پر ټولو بارکزو اقوامو د ځمکو مالیې حواله سوې. ددغو مالیو غوښتنه د اعلیحضرت امان الله خان د سلطنت په دوره کي هم دوام درلود او د منطقې په سطحه یوه ستونځمنه مسئله وه. په دې وخت کي د لوی کندهار بارکزي په یوه غونډه کي سره راټول سول او ویې پتېیله چي داسي یو څوک انتخاب کي چي هم د قومي رسوخ او محبوبیت خاوند وي او هم د فارسي په ویلو کي فصاحت ولري. دوی غوښته چي په کابل کي د خپل مشر او استازي په وسیله حکومت په دې قانع کړي چي ددوی ځمکي— چي اکثره یې په خشکاوه (خشک آبه) کي پرتې دي او ډېر حاصلات نه لري — د مالیې د ورکړې څخه معاف کړي.
ددې غونډې په نتیجه کي یوازینی شخص چي هم یې قومي مشرتوب درلودی او هم یې فارسي ژبه روانه زده وه او هغه مرحوم حاجي خدایارخان (حاجي بابا) و غوره سو. حاجي خدایارخان کابل ته ولاړئ او هلته څو میاشتي واوسېد. تر یوه لږ منطقي دلایلو وړاندي کولو وروسته حکومت او دربار په دې قانع کړل چي د بارکزو جایدادونه د مالیې د ورکولو څخه معاف کړي.
ددوی د مرګ څخه وروسته اعلیحضرت امان الله خان د بارکزو مالیه معافوي او بیا وروسته د اعلیحضرت محمدظاهرشاه د سلطنت ترپایه بارکزي د ځمکو د مالیې د ورکولو څخه معاف ګڼل کیږي. دا کار د لوی کندهار په ارتباط د حاجي بابا د سترو کارنامو څخه و .

(۳) لو ادې د وزیر فتح خان مور، د مرحوم عبدالمنصورخان بارکزي او مرحوم حبیب اللّٰه خان بارکزي (د اروانباد محمدرسول پښتون ورنیکه) خور او د سردار پاینده خان مېرمن وه. د بارکزو د سلطنت بنسټ همدې مېرمن کېښېښود.

(۴) منشي عطامحمد شکارپوري د "نوای معارک" په ۲۳۰-۲۳۸، ۸۴۹-۸۵۴، ۸۶۶-۸۷۲ صفحو کي د مرحوم عبدالمنصورخان ابازي بارکزي په هکله لیکي چي دی د اعلیحضرت شاه محمود په وخت کي تر ۱۲۴۰ هـ.ق پوري د هند د (شکارپر) د سیمي وروستی افغاني حکمران و.

pashtoon.net / pashtun.info September 2017

رسمي دندې:

مرحوم محمدرسول خان پښتون د خپلو رسمي ماموريتونو په اړه داسي ليکي:

"۱- د اعليحضرت امان الله خان په عصر کي د (انشا) په نوي جوړسوي غونډ کي د کنډکمشر په حيث؛

۲- د قلات د ارغنداب، د کندهار د نوزاد، ښوراوک (د سقوي ښورښ نه وروسته) او خاکرېز علاقه دار ۱۳۰۶ - ۱۳۱۰ش.؛

۳- په ترفيع سره د اجرستان حاکم، د سپين بولدک سرحددار ۱۳۱۱ش.؛

۴- د پښتون ملي شرکت د تحريراتو منشي ۱۳۱۲ ش.؛

۵- د فراه کنډکمشر او امنيه قومندان (په پنځمه رتبه) ۱۳۱۷ش.؛

۶- د کندهار د پوليسو سرمامور ۱۳۱۸/۸/۴ ش.؛

۷- د پلخمري د نوي ښار د مصالح د تهيې مدير د اقتصاد د وزارت دخوا، د ټرانسپورټ رئيس، د تعميراتو رئيس، د ارزاقو مدير ۱۳۱۹ - ۱۳۲۱ش.؛

۸- د جبل السراج د فابريکې د فني مديريت معاون ۱۳۲۳/۳/۱۵ ش.؛

۹- د پلخمري د تفتيش رئيس - ۱۳۲۳/۱۱/۲۰ ش.؛

۱۰- د کندهار د ميوې د شرکت د تفتيش مدير، مستقل استازی په خارج کي ۱۳۲۴ ش.؛

۱۱- د افغان فروټ اجنسي رئيس په بلوچستان کي ۱۳۲۵ ش.؛

۱۲- د ملي حمل و نقل رئيس ۱۳۲۹ ش.؛

۱۳- د کابل او بغلان دولتي انحصاراتو عمومي مدير ۱۳۳۰ ش.؛

(په بغلان کي سياسي محبوس - ۱۳۳۱ ش. - ۱۳۴۲ ش.؛)

۱۴- د کندز د انحصاراتو مدير ۱۳۴۳ ش.؛

۱۵- د مرکز د انحصاراتو د رياست تفتيش ۱۳۴۴ ش.؛

(ملي شورا ته کانديد - ۱۳۴۴/۴/۴ ش.؛)

۱۶- د کندز د انحصاراتو مدير ۱۳۴۴ ش. - د ميوندوال صدراعظم په دوره کي په نامعلومه علت پس له شلو ورځو د کاره برطرفه سوم. د صدارت معاون ښاغلي پوپل وروسته اوامر صادر کړل چه بيرته دی کار ته مقرره او د برطرفی د وخت معاش دي هم ورکړل سي. دا مقرري د محمد داود خان د کودتا په نتيجه کي (۱۳۵۲ ش.) عملي نسوه."

سياسي ژوند:

د مرحوم حبيبي صاحب (د اروابناد پښتون صاحب اخنبی) د روايت پربنا، د پښتون صاحب سره د يو مترقي نښنلستي نهضت او غورځنگ مفکوره د سقوي اغتشاش تر پيل دمخه موجوده وه. په دې اړه اروابناد پښتون صاحب په يوه يادابنت کي چي مرحوم استاد عبدالحي حبيبي ته يې ورکړی و او هغه د پښتون د "شرح حال" (آټوبياگرافي) پر محتوياتو استناد لري، داسي ليکي:

(ترجمه): " زما د تحريک ريښه تر ۱۳۰۷ ش. کال دمخه په کندهار کي موجوده وه او د هغه (ويښ زلمي)د مقرراتو وضع، تشکيل او د يوځای کېدو کار د سقوي اغتشاش څخه لس ورځي دمخه يعني د ۱۳۰۷ ش. کال په پای کي و. ما د مشروطه غوښتونکو مرام او د اتحاديې جوړولو وړانديز خپلو ملگرو ته وړاندي کړ چي د منلو وړ وگرزيد. زما د متحدينو په جمله کي محمدرفيق خان، مرزا محمداعظم ايازي، منشي منظورمحمد، د رشديې سرمعلم محمدکريم او اولياء الدين خان، د ښوونځيو ښوونکي او زده کوونکي او داسي نور وه. د هغې ډلي څخه مي د (مسلم) نوم په ياد دئ چي تراوسه ژوندی او په کندهار کي اوسېږي."

اروابناد محمدرسول خان پښتون په ۱۳۱۵ لمريز کال کي له مرحوم محمدگل خان مومند سره د هيواد په شمالي ولاياتو کي همکار و؛ د غلام حسن خان ساپي سره يې د مشروطه شاهي نظام د استقرار دپاره د ډله ييزه تحريک خبري پيل کړې. لږ راوروسته کله چي په پېښور کي دواړو سره وليدل، مصمم سول چي محمدرسول خان پښتون به په لوی کندهار کي او غلام حسن خان ساپي به په لوی ننگرهار کي د مشروطه شاهي نظام د استقرار په منظور په مسالمت آميزه سياسي تحريک لاس پوري کوي. په هر حال په ۱۳۲۴ لمريز کال کي د کندهار او ننگرهار منورين په گډه سره داسې تفاهم ته سره ورسېدل چي د کندهار منورين به په کندهار کي

pashtoon.net / pashtun.info September 2017

او د ننګرهار منورين به په ننګرهار کي د مشروطه شاهي نظام او ډيموکراسی د پياده کولو دپاره په عالمانه او عاملانه توګه مسالمت آميزه تحريک پيلوي. په ۱۳۲۵ لمريز کال کي د محمدهاشم خان صدراعظم د استبداد او اختناق دوره پای ته ورسېده او مستعفي سو؛ د هغه ورور شاه محمود خان د دفاع وزير، د صدراعظم په حيث وټاکل سو. شاه محمود خان صدراعظم له دې وېري چي مبادا افغان ولس به د خودکامه او مطلقه نظام د استبداد پر ضد د اخري چارې تر عنوان لاندې په پاڅون او عمومي قيام لاس پوري کړي، د هيواد په چارو کي يې خپل جهت ته تغير ورکړ او د خواخوږی او استمالت په منظور يې زندانونه له سياسي بنديانو څخه تش کړل او په عين وخت کي يې له يوې خوا د کاذبي ديموکراسی زمزمه پيل او له بلې خوا يې د يو سلسله اصلاحاتو وعده ورکړه. د ښاروالی او د شورا د دوهمي دورې دپاره يې آزاد انتخابات او آزادو نشراتو خپرول ومنل. نو ځکه ويښ زلميانو[۵] په ۱۳۲۶ لمريز کال کي د ويښ زلميانو تاريخي رسالت او ملي مکلفيت دا قتراح په توګه مطرح او د هغې ورځې د پوهانو او منورينو نظر يې وغوښت. هماغه و چي ۴۳ پوهانو، منورينو، د نظر او قلم خاوندانو داسي نظر څرګند کړ چي ويښ زلميان د ملي او اجتماعي ډله ييزه تحريک مخکښان او د افغان ملت د قدرت مظهر دي، مکلفيت او مسووليت لري چي بې له ځنډه د اجتماعي ژوند د سياست د سيالی ډګر ته ورودانګي. په همدې اساس محمدرسول خان پښتون د نورو ويښ زلميانو په ملګرتيا، د يوې منطقي او معقولې کړنلاري په چوکاټ کي علناً د مشروطه شاهي نظام او رښتيني ډيموکراسی د استقرار دپاره مسالمت آميزه ډله ييزه تحريک پيل کړ. دا سياسي شخصيت د ويښ زلميانو د سياسي متشکل ګوند ډېر پياوړی مبارز او انحراف ناپذيره بنسټ اېښوونکی و. دده انحراف ناپذيري ددې سبب سوه چي يوولس کاله او اته مياشتي سخت سياسي حبس وګالي.

د هيواد د مور يو ډېر رښتيني او نېشنليسټ زوی ښاغلی محمد داؤود مومند په امريکا کي يوې خپرېدونکي نشريې (آئينۀ افغانستان) ته يوه مقاله ورکړې وه. د مقالې عنوان و :"د مشروطيت غوښتني د دريمي دورې علمبردار: محمدرسول پښتون" په دې مقاله کي ښاغلي مومند ليکلي وه چي: "د پښتون په ذاتي او جبلي توګه د شهرت غوښتني او اقتدار نه کرکه وه. پښتون د خپلي مبارزې د پړاو يوه ملګري مرحوم ... ته چي وروسته د وزارت او سفارت مقام ته ورسېد، ويلي وه : چي تاسي يو ډپلوم هم نه لرئ؛ خو زه شل ډپلومه لرم، (د پښتون صاحب منظور خپلي بې شماري استعفانامې وې.)؛ تاسي په قصرونو کي ژوند کوئ او زه خانه بدوش يم؛ تاسي ... خو زه تقاعد هم نلرم؛ تاسي متلون المزاجه ياست، خو ما په ژوند د خپلو اصولو څخه عدول نه دی کړئ او له دې اصولو سره به يوځای مرم ... ،"

آثار:
د ملي او اجتماعي مبارز شخصيت محمدرسول خان پښتون د ژوند ډېره برخه په سياسي فعاليتونو او زندانو کي تېره سوې ده. که څه هم د تعليم او تحصيل خورا سخت مين و او هميشه يې ددې خبري يادونه کول؛ خو د ډېرو آثارو و ليکلو ته يې کافي وخت پيدا نه کړ. د مرحوم پښتون صاحب ليکلو آثارو او تاليفاتو ته په لاندې ډول اشاره کيږي.

- د ويښ ځلميانو لنډه تاريخچه، ناچاپه.
- د ابوشکور سالمي د عقايدو ژباړه په دري، ناچاپه.
- انديښني: د سياسي، فلسفي، اجتماعي، اخلاقي مقالو او لسګونو وجايزو مجموعه، ناچاپه.
- د نړی لنډه تاريخچه، ناچاپه.
- لنډوني په شپږو ټوکو کي، ناچاپه.
- د اماني عصر د ښځو د نهضت رساله.
- زما ماليخوليا، ناچاپه. دا کتاب د مرحوم پښتون صاحب د فلسفي افکارو ښکارندويه و چي د هغه وخت د ملي مطبعې د مشر په امر سره بېله کوم دليله! له چاپه پاته او ورک سو. د پښتون صاحب تر مرګ څو ورځي وروسته د "خاد" بدمعاشانو د پښتون پر کور ډاروونکی بريد وکړ او ددغه کتاب اصلي قلمي نسخه يې د نورو مهمو کتابو او ددوی د ليکنو او اسنادو په ګډون له کوره يوړه او د ابد دپاره يې ورک کړه. پښتون صاحب د مطالعې سره بېحده مينه درلوده او تل به يې د خپلي مطالعې په ترڅ کي خپل تفکرات، تبصرې او نقدونه په وړو کتابچو کي چي معمولاً به څلورسوه مخه وه او کچه به يې ۵x۳ انچه وه، ليکله. ددې کتابچو يوه لويه ټولګه چي د کلونو په ترڅ کي راغونډه سوي وه، هم د "خاد" بدمعاشانو يووړل.
- ګڼ شمېر مقالې، نثرونه او شعرونه يې د کابل په مجله، انګار، طلوع افغان، کاروان، افغان ملت اونورو جرايدو کي چاپ او خپاره سوي دي.

---

(۵) تاريخ نوين افغانستان— تاليف:يوويدګانکوفسکی و مسکوموسيل، مترجمين :داکتر ابراهيم عثمان، داکتر قربان بابايوف و جمراد جمشيد، دپارټمنت تاريخ نوين افغانستان، پوهنځی تاريخ وفلسفه، پوهنتون کابل، چاپ ۳- ۱۳۶۵ ش. مطبعۀ پوهنتون .
پورتنی ذکرسوی مأخذ په دې اړه داسي ليکي:
"... Dissemination of ideas that reflected the interests of the middle strata, led in 1947 to the emergence of political organization "Vish zalmiyan" ("Awakened Youth"). It was quite colorful in its social composition movement. The number of participants does not exceed 100 persons. In its ranks were the petty bourgeoisie, the bureaucracy, the intelligentsia, and the clergy. At the head was a small landowner from Kandahar Muhammad Rasul Khan Pashtun."

pashtoon.net / pashtun.info September 2017

پښتون ددې ترڅنګ چې ملي مبارز و او و ملي آرمانونو ته د رسېدو په لار کې يې زندانونه او محروميتونه زغملي وه، د خپلو اصولو څخه په هيڅ ګون نه اوښتئ، کله کله به يې اشعار او نظمونه هم ويل. د يوې ډېرې ښې حافظې په درلودلو سره يې په شپږ کلنۍ کي د خپلې مور تر لارښووني لاندي تقريباً پنځه زره پښتو او دري شعرونه په ياد کړل. شعرونه يې په خورا خواږه او ښه انداز بيانوله چې د همدې کبله، اکثراً به د خپل پلار په ملتيا د کندهار د نايب الحکومه سردار محمدعثمان مشرقي چې خپله هم ښه شاعر و، دربار ته بلل کېدئ او شعرونه به يې ويل. مرحوم پښتون خپلو زده کړو ته د مور او پلار او لږڅه وروسته د کندهار د مشهورو عالمانو تر لارښووني لاندي ادامه ورکړه چې د اسلامي علمي افکارو او شرعي قوانينو سره پوره پېژندنه ترلاسه کړه او قرآن مجيد يې هم حفظ کړ.

کابل - ۱۹۵۰ - د ويښ زلميانو مظاهره د غلام حسن خان صافی په پلوي
د محترم علومی صاحب له کورنۍ څخه په ډېره مننه چې دا تاريخي انځور يې زموږ سره شريک کړئ دئ.

ملي مبارز ارواښاد محمدرسول پښتون
د فراه کنډکمشر او امنيه قومندان (۱۳۱۷ش.)

د "ويښ زلمي" د ملي مترقي نهضت مؤسس ارواښاد محمدرسول پښتون
په بغلان کي سياسي بندي (۱۳۴۱ هـ.ش.)

محمد رسول پښتون
"کابل" مجله ۱۳۲۱ ش.
سره اوره او سپین افق
د اسمان کناره سره سوې — يا په ماڼلي لمبې سوې
د هجران تياره ماښام دی — يا د تورو زلفو دام دی
په تياره کي روڼ ښکاره ده — په افق کي رڼايي ده
سپين رنګي ... — د ملکو مېلمانۍ ده
څه عجيبه ننداره ده — شين دريا به سره کناره ده
يا د شنه چمن باغچه ده — په اشه کي يې لالې
يا افق دی خروښېدلی — يا سره اور دی لګېدلی
يا سپېرلی دی په اسمان کې — سره ګلان يې د دامان کې
يا اميد دی پښتانه دی — يا سور اور د بېلتانه دی
چي ځلېږي په تياره کي — يا بلېږي په سينه کي
يا مجلس دی د مستانو — په اسمان کي د خوبانو
سپين مخان سره يې غازې دي — جوته سوي ننداره يې دي
يا د شنه څمه وتلي — سره شراب بهېدلي
د ماښام تياره خپره ده — ومستانو فتنه پېره ده
يا د مينې سره لمبه ده — چي وتلې تر سينه ده
يا مقتل دی د مينو — چي سوځي سوځ دي پر وينو
سپين وړه خلد ګډ سوي — سره ګلان د غوټو ډېر
د اسمان ښايسته باغ ده — په چمن کي ننداره ده
سپين د سوروګ جانان دی — يا زما د آرزوګان دی
يا شهيد د لګېدلی — د افق شاته لويدلی
په اسمان کي تعزيه ده — د سره ستر خرڅېده ده
* * *
داد د غم اسمان کرم ده — چي ورځ پسې شپه ده
د عبث تابلو نګينه — نيمه سره نيمه سپينه
نتيجه د عمر داده — په خندا پسې ژړا ده
چي د لمر سپينه وايه ده — پر هغه ځاى تعزيه ده
NHP

د پسرلي ترانه
محمد رسول پښتون ۱۳۲۱
خه زبها د بنت و دمن دی — چي اسمان يې پيرهن دی
سري لاله يې پرکناس دي — سور افق يې پرېخن دی
بلبلانو پیغام راوړ — چي مجلس جوړ پر چمن دی
د پسرلي جشن اعلان سو — دالابل خبر د ښن دی
پاس د غره پر سر بر پښناده — يا بر غل د مېر حمن دی
سپينو تورو گوزار وونه — مردانه جنګ تن په تن دی
يا سپوږمۍ ده ويلي سوي — دالماس يک وطن دی*
يا د ناوي اميل بر ښنېي — يا واده د کوهکن دی
نن د غره بند ننداره ده — چي اسمان هم پر مېن دی
اشرفي يې پر سر اوري — گوزرېه غېږ کې يې گلشن دی
يا د سپيني واوري بام دی — ژيړ ګلو باندي پلن دی
يا سره زر دي په نقره کي — طلايي غر د ميهن دی
يا د زرو کان سو ويلي — روديي دروي پر دمن دی
يا اسمان محبوبه راغله — کهکشان يې پر لمن دی
يا نګينه آرزو ده — نه بهار دی نه چمن دی
يا د زړه د وښو رنګ دی — چي اخيستي يې وطن دی
نه دريا نه کهکشان دی — او ښکي د روي زره څمن دی
نه د سپيني واوري بام دی — مړي پروت سر په کفن دی
سپينه وږ راباندي شپه ده — په سهار کي هوما ختن دی
په دروغو باندي ژوند کړو — معتبر چي د زمن دی
پسرلي د عمر درومي — پر موږ نن هغه پرون دی
راځئ ټول په اتفاق سو — هزاره که ترکمن دی
پر همه دنيا آشوب دی — شوروي که امريکن دی
دانسان دښمنان د پر سوځ — چي حيران ورته پښتون دی
د قطغن "اتحاد" اخبار/ ۸۰ گڼه
* توالي افکار (؟)